مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۶/۰۲/۱۱

# مور هیریږو



لکه په شګو د چا پلونه
د باران په لمدو ګوتو
په شیبه شیبه ورانیږي
بنیادم هم یوه ورځ هسی له زړونونه هیریږي

لکه باد چې د مرغی ښایسته نوم
له وچو څانګو څخه ورک کړ
بنیادم هم د زمان په ګڼ بازار کې
بنیادم څخه ورک کیږي
زموږ هیلې
لکه اور کې کاغذونه
شنه لمبه شي
او سپوږمی به هم همداسې
سپینې سپینې شان جلوې کا
ته به وایې ددې ځمکې په مخ هیڅ تیر شوی نه وي
مور هیریږو
مور هیریږو
لکه لیرې لیرې ځای نه نیمه شپه کې
د شپیلی آرامه غږ
چې بادونو کې ورکیږي
هو !
نو
زماني دغسي درومي
لکه څوک چې له خپل وران کوره روان شي
او د کور دروازه شاته خلاصه پریږدي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ